بريالی شو هغه څوک چې اسلام يې قبول کړ، او الله تعالی ورته دومره روزي ورکړه چې بسنه ورته کوي، او الله هغه ته په هغه څه قناعت ورکړي چې ورکړي يې دي)

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: (بريالی شو هغه څوک چې اسلام يې قبول کړ، او الله تعالی ورته دومره روزي ورکړه چې بسنه ورته کوي، او الله هغه ته په هغه څه قناعت ورکړي چې ورکړي يې دي).

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې بريالی او کامياب هغه څوک دی چې: خپل رب ته تسليم شوی وي، نو دی به له هدايت شوو او هغه چا څخه وي چې الله تعالی د اسلام توفيق ورکړی وي، او الله تعالی هغه ته له حلالو څخه دومره روزي ورکړی وي چې د هغه اړتياوې پوره کړي نه زيات وي او نه کم، او الله تعالی هغه ته قناعت ورکړی وي، يعني هغه په خپل حال خوشاله وي، او د الله په ورکړه راضي وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5814

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee